# اُرپانه

شماره ۸۲

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د ویاند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: ربيع الثاني ۵، کال ۱۴۴۷ هجري قمري


## اعلامیه امارت اسلامی در پیوند به اظهارات اخیر رئیس جمهور امریکا

۵

## آغاز فعالیت ۱۰ کارخانه جدید در شهرک صنعتی هرات




۵

### سرمقاله

## افغاني سره میاشت؛ د انسانیت پیغام او د ټولنې امید

له نږدې یوه پېړۍ راهیسې، افغاني سره میاشت د افغانستان په ټولنه کې د انسانیت او هیلې ځراغ پاتې شوې ده. دا بنسټ یوازې د مرستې یو ادارې په توګه نه، بلکې د ژوند د ژغورنې، د انساني کرامت د ساتنې او د راتلونکې د هیلې د بیا راژوندي کولو په توګه خپل اغېز ښودلی دی.

په تېر میلادي کال کې، افغاني سره میاشت څه د پاسه ۴.۶ میلیونه هېوادوالو ته مرستې رسولې دي. دا مرستې د خوراکي توکو او پاکو اوبو له وېش نیولې، تر روغتیایي خدمتونو، سرپناه، زده کړو او رواني آرامتیا پورې رسیږي. یوازې د روغتیا په برخه کې، څه د پاسه ۳.۸ میلیونه افغانان له خدمتونو برخمن شوي، او د لسګونو زره ناروغانو درملنه شوې ده.

د طبیعي او غیرطبیعي پېښو پر مهال، دا ټولنه د لومړنیو مرستو په وړاندې کولو کې مخکښ پاتې شوې ده. د هرات د زلزله‌ځپلو لپاره د کورونو جوړول، د زرګونو بې ځایه شویو او راستنېدونکو کډوالو ملاتړ، او د بېوزلو کورنیو سره د نغدو مرستو رسونه هغه ګامونه دي چې د ژوند د بېرته ودانولو لپاره اخیستل شوي دي.

همدارنګه، د رضاکارانو ځواکمن شتون د دې ټولنې اصلي ستنه ده. له ۳۱ زره زیات رضاکاران د هېواد په ګوټ ګوټ کې د مرستې او همدردۍ پیغام رسوي؛ هغوی نه یوازې د مرستې بسته رسوي، بلکې د هیلې، باور او راتلونکي لپاره د مبارزې روحیه هم وېشي.

نن، افغاني سره میاشت د افغانستان د هر اړمن، یتیم، معلول او بېوزلي انسان لپاره د ملاتړ نښه ده. خو د دې خدمتونو د دوام لپاره، د سوداګرو، خیرپالو او نړیوالو بنسټونو پر مالي او معنوي ملاتړ تینګار کېږي. ځکه چې هره مرسته یوازې یوه شمېره نه ده؛ بلکې د ژوند د ژغورنې، د هیلې د بیا راژوندي کولو او د افغانستان د روښانه راتلونکي د جوړولو یوه رښتینې بېلګه ده.#

# د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې چارې پیل شوې







د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې د عملي چارو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه ګازي ساحو د عملي چارو پیل د پانګونې په برخه کې مهم ګام وباله او ویې ویل، په داسې لویو او مهمو پروژو کې پانګونه ټولو هېوادونو او پانګوالو ته واضح پیغام ورکوي چې په افغانستان کې امنیت تأمین او د هر ډول پانګونو لپاره ښه زمینه مساعده ده.

د هغه په خبره، د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست له مخې د ممکنه اسانتیاوو په برابرولو سره ټولو بالقوه پانګوالو...

٦

## پالیسی اقتصادی امارت اسلامی افغانستان منظور شد





۲

## ملي تدارکاتو کمېسیون د ۳.۸ میلیارده افغانیو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم ۳۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث...

۵

## د کونړ د زلزلې په تړاو د رسنیو او موسسو رسالت

د کونړ ولایت وروستۍ زلزلې په دغه ولایت کې سلګونه کورنۍ د وير او ماتم په تغر کېنولې دي. ویجاړ کورونه، یتیمان او غمجنې میندې همدرۍ او لاسنیوي ته سترګې په لار دي. دا د رسنیو دنده ده چې د کونړ د زلزله ځپلو غږ تر نړیوالو ورسوي. اوس د دې وخت دی چې ټولې کورنۍ او بهرنۍ مرستندویه موسسې، خیریه سازمانونه او بشرپاله بنسټونه په ګډه د کونړ د وروستۍ زلزلې له قربانیانو سره مرسته وکړي او هغوی ښه راتلونکي ته هیله من کړي. د کونړ ولایت د وروستۍ زلزلې له امله زیانمن خلک د خوړو، سرپنا، روغتیايي خدمتونو او بیارغونې برخه کې بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. کونړ ته پاملرنه؛ انساني وجدان ته پاملرنه او ګډ بشري مسئولیت دی. راځئ چې په ګډې همکارۍ سره د کونړ په مات زړه کې هیلې بیا را ژوندۍ کړو!

مولوي نعیم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

# پالیسی اقتصادی امارت اسلامی افغانستان...



...معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء اعلام کرده که پالیسی اقتصادی امارت اسلامی افغانستان منظور شده است.
در اعلامیه آمده است که این پالیسی از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست الوزرا تایید و از سوی عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی منظور شده است.
براساس اعلامیه، این پالیسی بر توسعه افغانستان برپایه نظام اقتصادی اسلامی تاکید دارد و اهدافی چون جذب سرمایه‌گذاری، افزایش تولید و صادرات، اشتغال‌زایی، کاهش فقر، رشد پایدار، ثبات اقتصادی و عدالت اجتماعی اسلامی را دنبال می‌کند.
معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء، نقش این پالیسی را در هماهنگی فعالیت‌های اقتصادی، استفاده موثر از منابع و حمایت از سکتور خصوصی مهم دانسته است.#

# جاپان برای زلزله‌زدگان افغانستان یک میلیون دالر کمک بشردوستانه اختصاص داد



دولت جاپان اعلام کرده است که در پی زلزله‌های اخیر در شرق افغانستان، کمک فوری بشردوستانه به ارزش یک میلیون دالر امریکایی را در اختیار نهادهای امدادرسان بین‌المللی قرار می‌دهد. این کمک‌ها از طریق برنامه جهانی غذا (WFP) و فدراسیون بین‌المللی جمعیت‌های صلیب سرخ و هلال احمر (IFRC) به دست آسیب‌دیدگان خواهد رسید...


٦

# له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل د غځېدلي سړک چارې ۹۵ سلنه بشپړې شوې دي



۵

# جلسه بررسی طرح تنظیم امور ترافیکی و جلوگیری از حوادث ترافیکی بالای جاده، دایر گردید



جلسه بررسی طرح تنظیم امور ترافیکی و جلوگیری از حوادث ترافیکی بالای جاده، تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء و با اشتراک وزراء، معینان و مسئولان مسلکی و تخنیکی وزارت های ترانسپورت و هوانوردی، امور داخله، فواید عامه، صحت عامه، ریاست عمومی پولیس ترافیک و سایر ادارات ذیدخل دایر گردید.
در این جلسه در مورد نصب اشارات و علایم ترافیکی، لوحه های رهنمایی کننده، آیینه های مقعر و محدب در گولایی ها، ایجاد گارد ریل ها و خط اندازی سرک ها و شاهراه ها، چک و معاینه تخنیکی و توزیع کارت های صحی و مصئونیت برای دریوران و موتر ها، جلوگیری از تخلفات ترافیکی و سایر موارد ضرورت در شهرها و شاهراه ها بخاطر جلوگیری از حادثات ترافیکی و ایجاد نظم بر تردد موترهای شخصی، مسافربری و باربری بحث همه جانبه صورت گرفت و تصامیم لازم نیز اتخاذ گردید.#

# دیدار تودیعی رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با نماینده خاص سرمنشی ملل...



...محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با خانم روزا اتانبایوا نماینده خاص سرمنشی ملل متحد برای افغانستان، در ارگ دیدار تودیعی کرد.
ابتدا خانم روزا اتانبایوا ضمن اینکه مراتب تسلیت و همدردی خویش را بخاطر تلفات جانی و خسارات مالی ناشی از زلزله اخیر در کشور ابراز کرده، گفت که من شخصاً با سفر به مناطق زلزله زده، مسئولیت های سپرده شده از سوی سازمان ملل متحد را جهت کمک به آسیب دیدگان به انجام رساندم.
نماینده خاص سرمنشی ملل متحد برای افغانستان، از مدیریت به موقع و رسانیدن کمک های عاجل به زلزله زدگان از سوی امارت اسلامی، تمجید نمود و گفت که ملل متحد به کمک های خویش در بخش های صحی، حوادث طبیعی و سایر عرصه ها ادامه می دهد و از امارت اسلامی خواست تا در زمینه تجدید قراردادهای دفاتر جدید این سازمان همکاری نماید.
سپس محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به نماینده خاص سرمنشی ملل متحد، از ماموریت موصوف در افغانستان قدردانی کرده، گفت که مسئولین امارت اسلامی همواره در تلاش اند تا به مشکلات مردم رسیدگی نمایند.
رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء از کشورهای دوست، نهادهای خیریه، تاجران و هموطنان خیّر بخاطر کمک و همکاری شان به آسیب دیدگان زلزله ابراز امتنان نموده، گفت که ما می توانیم مشکلات را از طریق تفاهم حل نماییم. وی به خانم روزا اتانبایوا اطمینان داد که پیشنهادات وی را با رهبری امارت اسلامی شریک خواهد ساخت.
در اخیر این دیدار، محترم داکتر ملا عبدالواسع از خانم روزا اتانبایوا خواست که در راستای موفقیت ماموریت جانشین خویش به تلاش هایش ادامه دهد و افزود که ما آنچه در توان داریم همکاری خود را با موصوف ادامه خواهیم داد.#

# بازپس‌گیری حدود چهار میلیون جریب...



...کمیسیون جلوگیری از غصب زمین و استرداد زمین‌های غصب‌شده اعلام کرد که تاکنون نزدیک به چهار میلیون جریب زمین در سراسر کشور دوباره به مالکیت اصلی و قانونی بازگردانده شده است. مسئولان این کمیسیون می‌گویند، بیشتر این زمین‌ها در ولایت‌های جوزجان، میدان وردک، کندز، سرپل، ننگرهار، بادغیس و کابل موقعیت دارد و اکنون می‌تواند برای رشد زیربناها و اجرای پروژه‌های مهم عام‌المنفعه مورد استفاده قرار گیرد.
برکت‌الله رسولی، سخنگوی وزارت عدلیه، خاطرنشان کرد که تنها از زمان ایجاد کمیسیون تاکنون بیش از ۳ میلیون و ۹۳۰ هزار جریب زمین پس از بررسی و شناسایی به دولت و مردم بازگردانده شده است. کارشناسان باور دارند که این دستاورد مهم، ضمن تأمین حقوق مالکیت شهروندان، زمینه‌ساز توسعه اقتصادی، افزایش سرمایه‌گذاری‌های خصوصی و اجرای پروژه‌های ملی خواهد بود و امید تازه‌ای برای آینده روشن کشور به همراه دارد.#



PANA ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #82

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Islamic Emirate of Afghanistan's Economic Policy Approved



The Deputy Prime Minister for Economic Affairs has formally announced the approval of the Islamic Emirate of Afghanistan's Economic Policy.

As stated in the official announcement, the policy has been endorsed by Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs, and ratified by the Supreme Leader of the Islamic Emirate of Afghanistan.

The policy underscores Afghanistan's development within the framework of an Islamic economic system and sets forth strategic objectives, including attracting investment, enhancing domestic production...ContP#4

# Strategic Gas Project Begins: Tooti Maidan Exploration and Extraction Officially Underway



The Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, attended the inauguration ceremony marking the launch of the exploration and extraction operations at the Tooti Maidan gas fields.

In his remarks, the Deputy Prime Minister described the commencement of this project as a significant...ContP#4

## Editorial

# Afghan Red Crescent: A Symbol of Humanity and a Beacon of Hope

For nearly a century, the Afghan Red Crescent has served as a cornerstone of humanity and hope within Afghan society. Its impact extends far beyond providing aid; it safeguards lives, upholds human dignity, and rekindles aspirations for a brighter future.

Over the past year, the Afghan Red Crescent has delivered assistance to more than 4.6 million Afghans. This support encompasses the distribution of food and clean water, access to healthcare services, provision of shelter, educational programs, and psychosocial support. In the health sector alone, over 3.8 million individuals have benefited from services, with tens of thousands receiving critical medical treatment.

In times of natural and man-made disasters, the organization has remained at the forefront of emergency response. Key initiatives include constructing homes for earthquake-affected communities in Herat, supporting thousands of displaced and returning families, and providing cash assistance to impoverished households—efforts essential for rebuilding lives.

The organization's extensive volunteer network is a central pillar of its mission. More than 31,000 volunteers across the country not only deliver relief packages but also convey messages of hope, resilience, and the determination to overcome adversity.

Today, the Afghan Red Crescent stands as a lifeline for every vulnerable, orphaned, disabled, and impoverished Afghan. Sustaining these services depends on continued financial and moral support from businesses, philanthropists, and international partners. Each act of assistance is more than a statistic; it represents a life saved, hope restored, and a tangible contribution to Afghanistan's brighter and more resilient future. #

# Japan Allocates $1 Million in Humanitarian Aid for Earthquake-Affected Communities in Afghanistan

...ContP#4

# Islamic Emirate of Afghanistan's Economic Policy...



...and exports, generating employment opportunities, reducing poverty, fostering sustainable economic growth, ensuring macroeconomic stability, and promoting Islamic social justice.

The Deputy Prime Minister's office emphasized that this policy is instrumental in coordinating national economic activities, optimizing the utilization of resources, and providing robust support to the private sector. #

# Strategic Gas Project Begins: Tooti Maidan Exploration and Extraction...



...milestone in advancing investment in Afghanistan. He emphasized that undertaking such large-scale and strategic projects conveys a clear message to both domestic and international investors that Afghanistan enjoys a secure environment and offers favorable conditions for investment.

He further noted that, in line with the Islamic Emirate of Afghanistan's economic policy, all potential investors are warmly welcomed and fully supported. Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund underscored that the project will generate employment opportunities for Afghan citizens, substantially meet domestic demand for natural gas, reduce reliance on imported gas and electricity, and gradually create the capacity for gas exports.

According to him, these developments will contribute to balancing trade and will play a vital role in strengthening the country's overall economic growth.

The Deputy Prime Minister once again called on both domestic and international investors and entrepreneurs to seize the investment opportunities in Afghanistan and benefit from the country's comparative advantages.

In conclusion, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund urged the contracting company responsible for the Tooti Maidan gas field exploration and extraction to execute its responsibilities with utmost diligence, adhering strictly to all technical standards and professional principles. #

# Japan Allocates $1 Million in Humanitarian Aid for Earthquake-Affected Communities...





...The Government of Japan has announced that, in response to the recent earthquakes in eastern Afghanistan, it will provide urgent humanitarian assistance totaling $1 million USD through international relief organizations. The aid will be delivered to affected populations via the World Food Programme (WFP) and the International Federation of Red Cross and Red Crescent Societies (IFRC).


In an official statement, the Embassy of Japan in Afghanistan highlighted that the assistance has been mobilized immediately to meet the critical needs of earthquake-affected communities.

The recent seismic events in eastern provinces of Afghanistan have resulted in numerous casualties and injuries, as well as extensive damage to residential properties and local infrastructure. Consequently, many families have been rendered homeless and are in urgent need of emergency support.

Japan reaffirmed its commitment to continue supporting the people of Afghanistan during this crisis and to stand alongside them. The embassy emphasized that this contribution reflects Japan's broader global commitment to humanitarian assistance and relief efforts.

This initiative comes amid reports from international aid agencies highlighting an escalating demand for immediate support in the earthquake-affected areas and appealing for enhanced international assistance. #

# Afghanistan and Iran Strengthen Economic Cooperation Through High-Level Talks



The Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, met with Sayed Mohammad Atabak, Minister of Industry, Trade, and Mines of the Islamic Republic of Iran, along with his accompanying delegation.

The meeting focused on comprehensive discussions aimed at boosting bilateral cooperation between Afghanistan and Iran in trade, transit, investment, and the Chabahar Port. Both parties also assessed the work of the Joint Economic Committee and considered steps to improve its efficiency. #

# Restitution of Approximately Four Million Jeribs of Land Nationwide



The Commission for the Prevention of Land Grabbing and the Restitution of Grabbed Lands has announced that nearly four million jeribs of land across Afghanistan have been restituted and returned to their rightful and legal owners.

Commission officials reported that the majority of these lands are located in the provinces of Jawzjan, Maidan Wardak, Kunduz, Sar-e-Pul, Nangarhar, Badghis, and Kabul. These lands are now available for infrastructure development and the implementation of key projects of public interest.

Barkatullah Rasouli, spokesperson for the Ministry of Justice, emphasized that since the establishment of the commission, over 3,930,000 jeribs of land have been restored to the state and the public following comprehensive verification and assessment. Experts note that this major achievement not only protects citizens' property rights but also serves as a catalyst for economic development, encourages private investment, facilitates the execution of national projects, and instills renewed hope for a prosperous future in Afghanistan. #

# ملي تدارکاتو کمېسیون د ۳.۸ میلیارده افغانیو په لګښت شپږ پروژې...







...وروسته ۲۰ پروژې د یو لړ تعدیلونو په واردولو سره او د ۳.۸ میلیارد افغانیو په ارزښت شپږ پروژې منظورې شوې.
همدارنګه د څلورو پروژو په اړه تاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له ګټونکو شرکتونو سره د پروژو د قیمتونو په اړه مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شوو پروژو کې د کونړ ولایت د ۲۰۰ بستریز روغتون د ودانۍ د پاتې چارو بشپړول، په پکتیکا ولایت کې د ۶۰۰ متریک ټنه په ظرفیت د سړې خونې جوړول، د فاریاب ولایت د میمنې ښار څخه د همدې ولایت تر فردوس ولسوالۍ پورې د ۲۵ کیلومتره سړک جوړول او په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.#

## په نږدې راتلونکي کې به د بخش اباد خاکي بند عملي چارې پیل شي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د فراه ولایت له علماوو او قومي مشرانو سره وکتل. د لیدنې پر مهال د فراه ولایت علماوو او قومي مشرانو د فراه ولسونو د اوبو کمښت، برېښنا او ترانسپورټ په برخو کې موجودې ستونزې شریکې کړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د یادو ستونزو د حل په موخه د اړوندو وزارتونو او ادارو مسوولینو ته سپارښتنه وکړه، څو د موجوده امکاناتو په صورت کې ورته رسېدنه وکړي.
په ناسته کې یادو مسوولینو ډاډ ورکړ، چې په نږدې راتلونکي کې به د بخش اباد خاکي بند او د فراه ولایت له مرکز تر فراه رود پورې د غځېدلي سړک عملي چارې پیل شي او همداراز به هڅه وکړي، څو د وارداتي برېښنا پر مټ او یا هم د خصوصي سکټور له لوري د لمریزې برېښنا د تولید په برخه کې د پانګونې له لارې د دوی د برېښنا ستونزه حل کړي.#

## له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل د غځېدلي سړک چارې ۹۵ سلنه...



...د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل د غځېدلي سړک چارې له نږدې وځارلې. د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د کابل ښاروالۍ له لوري د دغه پروژې د ترسره شوو کارونو ستاینه وکړه او دغه پروژه یې د ښاري ترانسپورټ د تنظیم او ښاري پراختیا په برخه کې مهمه وبلله.
د کابل ښاروالۍ مسئولینو د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم ته ډاډ ورکړ چې د دغه سړک پاتې چارې به په نږدې راتلونکي کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به یې وسپاري. د کابل ښاروالۍ مسئولینو وویل چې د دې پروژې له پاره دوی ته د قرارداد مطابق یو کال او اته میاشتې وخت ورکړل شوی او د قرارداد موده لا څلور میاشتې پاتې ده. د دوی په خبره، له پلان سره سم به په دغو څلورو میاشتو کې د پروژې ټولې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به یې وسپاري.

له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل غځېدلی سړک ۷.۶ کیلومتره اوږدوالی او ۳۰ متره سور لري، چې اوسمهال یې ۹۵ سلنه چارې بشپړې شوې دي. دغه سړک د تګ راتګ لپاره دوه اساسي سړکونه، د دواړو لورو ته پلې لارې او لښتي، ګلدانونه، ترافیکي نښې او د یو معیاري سړک ټولې برخې لري. د دغه سړک په جوړېدو سره د کابل ښار په شمالي سیمه کې ترافیکي ګڼه ګوڼه د پام وړ راکمه شوې، له شمالي ولایتونو څخه د سوداګریزو توکو باروړونکو او مسافر وړونکو موټرونو ته د پام وړ سهولتونه رامنځته شوي او ترافیکي پېښې کمې شوې دي.
پر دغه سړک ۴۵۰ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکړل شوې دي. د یادونې وړ ده چې د دغه سړک چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه پیل شوې وې.#







# آغاز فعالیت ۱۰ کارخانه جدید در شهرک صنعتی...



...با سرمایه‌گذاری بیش از ۶۲ میلیون دالر، ده کارخانه تازه تولیدی کار خود را در شهرک صنعتی هرات آغاز کردند. این کارخانه‌ها در بخش‌های متنوعی چون تولید دوا، مواد غذایی، لبنیات، فرش و آرد فعالیت خواهند داشت و برای صدها تن به‌صورت مستقیم و غیرمستقیم فرصت شغلی ایجاد کرده‌اند.
کارشناسان اقتصادی این تحول را گامی مهم در مسیر خودکفایی افغانستان می‌دانند. به باور آنان، گسترش چنین سرمایه‌گذاری‌ها نه‌تنها زمینه اشتغال‌زایی را فراهم می‌سازد، بلکه باعث کاهش بیکاری، افزایش تولیدات داخلی، کاهش وابستگی به واردات و انتقال تکنالوژی به کشور خواهد شد.
مسئولان نیز می‌گویند که در سال‌های اخیر، روند تأسیس کارخانه‌ها در شهرک صنعتی هرات شتاب گرفته و اکنون بیش از ۱۲۰۰ واحد تولیدی در این شهرک فعال است که محصولات متنوعی را به بازار عرضه می‌کنند.#

## اعلامیه امارت اسلامی در پیوند به اظهارات اخیر رئیس جمهور...

بسم الله الرحمن الرحیم

...امارت اسلامی افغانستان در روشنایی اصول شرعی و سیاست خارجی متوازن و اقتصاد محور خویش، خواهان مناسبات مثبت بر اساس منافع دوجانبه و مشترک با تمام کشورها می باشد.
در تمام مذاکرات دو جانبه، به امریکا واضح شده است که برای امارت اسلامی استقلال و تمامیت ارضی افغانستان نسبت به هر چیز دیگر اهمیت زیاد دارد. قابل یادآوری است که در توافقنامه دوحه امریکا تعهد سپرده بود« از زور و تهدید برعلیه تمامیت ارضی و استقلال سیاسی افغانستان استفاده نمی کند و نه در امور داخلی آن مداخله می نمایند»، بنابراین نیاز است تا آنان به تعهدات خویش پابند بمانند.
به همین سبب یکبار دیگر یادآوری می شود که به عوض تکرار تجربه های ناکام گذشته، باید راهکار مبتنی بر واقعبینی و عقلانیت اختیار گردد.

امارت اسلامی افغانستان

## د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسوده تایید شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسوده د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له هراړخیز بحث وروسته تایید شوه. د دې پالیسۍ موخه د ملي او نړیوالو معیارونو پر اساس د معدني موادو پروسس ته زمینه برابرول؛ په هېواد کې دننه د معدني موادو د پروسس په برخه کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې جذب؛ د اړوندو ادارو ترمنځ د معدني موادو د پروسس او صادراتو لپاره د ښې همغږۍ رامنځته کول؛ د سیمې او نړۍ بازارونو ته د معدني موادو د سوداګرو اسانه لاسرسی او په هېواد کې د کاري فرصتونو رامنځته کول دي.
همداراز دې غونډې ته د هېواد په مهمو بندرونو کې د لابراتواري کمپلکس طرحې د څېړلو په موخه د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته تایید شو. په دغه لابراتواري کمپلکس کې د ۹ وزارتونو او ادارو لپاره تاسیسات په نظر کې نیول شوي او هر لابراتوار به په ۴۰ جریبه ځمکه کې جوړ شي. د اقتصادي کمېسیون په دې غونډه کې پر یوشمېر نورو موضوعاتو هم بحث وشو، چې په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول.
یادې پرېکړې د نهایي تصمیم په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.#

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

# ارگ نامه


صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## دیدار تودیعی رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با نماینده خاص سرمنشی ملل متحد برای افغانستان



۲

## جاپان برای زلزله‌زدگان افغانستان یک میلیون دالر کمک بشردوستانه...



...سفارت جاپان در افغانستان در بیانیه‌ای که در صفحه رسمی خود در شبکه اجتماعی ایکس منتشر کرده، تأکید کرده است که این کمک‌ها به‌گونه فوری برای تأمین نیازهای اولیه زلزله‌زدگان اختصاص یافته است.
زلزله اخیر در ولایات شرقی افغانستان، علاوه بر شهادت و مجروح شدن شمار زیادی از مردم، خسارت‌های سنگینی بر خانه‌های مسکونی و زیرساخت‌های محلی وارد کرده است. در نتیجه، بسیاری از خانواده‌ها بی‌سرپناه شده و به کمک‌های فوری نیازمندند.
جاپان افزوده است که این کشور متعهد به ادامه حمایت از مردم افغانستان در شرایط بحرانی است و در کنار مردم این کشور خواهد ماند. به گفته سفارت جاپان، این کمک‌ها بخشی از تعهدات جاپان در عرصه همکاری‌های بشردوستانه و انسانی در سطح جهانی به‌شمار می‌رود. این اقدام جاپان در حالی صورت می‌گیرد که سازمان‌های امدادی بین‌المللی نسبت به افزایش نیازهای فوری مردم در مناطق زلزله‌زده خبر داده و خواستار کمک بیشتر جامعه جهانی شده‌اند.#

## د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج...




...ته ښه راغلاست وایي او ملاتړ یې کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په دې سره به زیات شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر، په کور دننه به د ګازو اړتیا تر ډېره حده پوره، په وارداتي ګازو او برېښنا به د هېواد تکیه راکمه او په تدریجي توګه به بهر ته د ګازو د صادرولو زمینه مساعده شي.
د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، په دې سره به د سوداګرۍ انډول تر یوې کچې برابر او په لویه کې به د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول ولوبوي.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یو ځل بیا پر ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو او سوداګرو غږ وکړ، چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او د دې هېواد له نسبي مزیتونو ګټه واخلي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د طوطي میدان ګازي ساحو د څېړنې او استخراج له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې خپل کارونه د ټولو معیارونو او اصولو په پام کې نیولو سره په ښه ډول ترسره کړي.#

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ اقتصادي کمېسیون غونډه وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون پرېکړه وکړه، چې د اورانوس د ودونو تالار او پارکېنګ شته قراردادونه دې فسخه او یاده ساحه دې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو مارکېټ ته ځانګړې او د خلیج او ممتاز محل د ودونو تالارونه دې د قراردادونو د مودې تر پای ته رسېدو وروسته د کابل ښاروالۍ له اصولو سره سمې کړنې ترسره کړي.
همدا راز د نظیف مارکېټ، علاوالدین درې لارې د تېلو ټانګ (تېلو پمپ سټېشن) او ظاهر شاهي مارکېټ ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شوي او اوسمهال له نویو مستأجرینو څخه کرایه اخیستل کېږي. دغه پرېکړه د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی له لوري تایید شوې ده.#

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ایران اسلامي جمهوریت د صنعت، سوداګرۍ او کانونو له وزیر او مل پلاوي سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د ایران اسلامي جمهوریت د صنعت، سوداګرۍ او کانونو له وزیر سید محمد اتابک او مل پلاوي سره وکتل.
د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ، ترانزیټ، پانګونې چابهار او د دواړو هېوادونو تر منځ د مشترکې اقتصادي کمېټې د کارونو او لا موثریت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.#

## بازپس‌گیری حدود چهار میلیون جریب زمین در کشور



۲